AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۱۱/۰۳

# په ګران افغانستان کې بيا زلزله او امارت اسلامي ته وړانديز

په خواشينی سره تېره شپه یوه بجه د شپې د ګران هېواد دريو شمالي ولايتونو بلخ، سمنګان او بغلان کې شديده زلزله واقع سوله، البته پايتخت کابل کې هم ټکانونه احساس سول.
د نوموړو دريو ولایتونو په وګړو کې مړه او زخميان او د مسکن ورانی هم رامنځته سوی ده. ما نن د خپل رور مقيم د مزارشريف سره، چې اوس ۷۵ کلن ده، ټيليفوني تماس لاره، هغه وويل، داسې شديده زلزله ما خپل عُمر کې نه وه ليدلي. د کوټو دروازی پورې او وازېدلي او يو قسم عجيب غږونه توليد کېدل. خلک ډېر وډار سول. هغه اضافه ګړه، په تنګي د تاشقرعان کې بيا تيږې را ښوېدلي او بيا يې انساني مرګ او ژوبله هم رامنځ ته کړې ده.
ما د خپل ورور سره، چې ساختماني انجنيري يې مسلک ده د ۱۳۵۷ل کال په نوروز کې د عيني واقعې يادونه په تنګي د تاشقرغان کې ياده کړله، چې يوه لويه غميزه وله او هغه تنګي ساحه کې مې د يوه مجهز تونل د احداث نظر ورکړو.
هغه وويل، "دا بالکل يوه ضروري موضوع ده. ما دغه ساحه کتلې، دغه ساحه کې د يوه تونل احداث بايد د يوه مهم ضرورت په حيث د تحقيق لاندې ونيول سي." ما ورته وويل، ته د بلخ ولايت د امارتي محترمو چارواکو سره ووينه او لکه يو مسلکي کس د تونل موضوع ورسره مطرح کړه.
افسوس، چې تېر جمهوريتي دولت په لويو مالي امکاناتو دغه د تاشقرغان تونل بايد له وخته جوړ کړای وای، اما دوی صرف د شخصي ګټو او خپل منځي بې اتفاقيو په غم کې ول.
خير، اوس هم زه د امارت اسلامي اړونده چارواکو ته د دغه تونل د عاجل جوړولو وړانديز کوم. کنه دغه تلفات به بيا بيا تکرارېږي. مړو ته لوی اخروي اجر او زخميانو ته صبر او استقامت غواړم.



د مزار شريف روضه



د تنګي تاشقرغان تازه حال



د تاشقرغان د تنګي تازه حال

مطالب نشر شده از **محمد اياز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاين


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ